UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتيژيکو اړيکو او وياند دفتر، کابل، افغانستان
http://unama.unmissions.org
مطبوعاتي بيانيه

**د افغانستان لپاره د ملګرو متلونو د عمومی منشی د ځانګړي استازی ستفان دی ميستورا وينا د ولسمشر د ۶۲ ګڼه فرمان په اړه**

**کابل، ۲۷ اکتوبر ۲۰۱۰**

د ټولو اړوندو او ذيعلاقه مرسته کوونکو هيوادونو او د آيساف/ناټو د نږدې مشورو په نتيجه کې او د هغوی په استازيتوب مونږ يو ځل بيا د افغانستان د اسلامی جمهوريت د حکومت د هغه اصولي دريځ ملاتړ څرګندوو چې د خصوصی امنيتی شرکتونو په اړه نيول شوی دی.

د ولسمشر ۶۲ ګڼه فرمان د حکومت د هغې ژمنې بيان دی چې د قانون د واکمنی د ټينګښت لپاره دی او مونږ د دغه فرمان د تطبيق لپاره د يو ټاکلي مهال ويش له مخې ژمن يوو او دا منو چې نړيواله ټولنه بايد په بيړه سره د ولسمشر کرزي د اوږدی مودې راهيسې اندېښنو په اړه غبرګون جوت کړي چې د خصوصی امنيتی شرکتونو د کړنو په اړه دي.

مونږ د افغانستان د اسلامي جمهوريت د حکومت ملی حاکميت درناوي کوو او د دغه حکومت د استازو سره په رغنده مباحثو کې يوو څو چې د جمهور ريس ۶۲ ګڼه فرمان پلی شي.

زموږ دريز د افغانستان د اسلامی جمهوريت د حکومت سره د ګډو موخو پر بنسټ ولاړ دی چې غواړي د قانون د څواکمنتيا، د ريښتينی مشارکت د روحيې او متقابل ملاتړ په چوکاټ کې د افغانستان اقتصادي او امنيتی پرمختيا پر مخ بوزي.

Strategic Communication and Spokespersons Unit
United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA)
Kabul, Afghanistan Tel: 079 000 6121; +39 083 124 6121

http://unama.unmissions.org
Subscribe online to ensure you receive news from UNAMA.